د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

کمپیوټرساینس پوهنځۍ

معلوماتی تکنالوژی څانګه

# د معلوماتی تکنالوژی د څانګی پنځه کلن ستراتیژیک پلان

۱۴۰۶-۱۴۰۲

2023-2027

**ترتیب کوونکی**: د معلوماتی تکنالوژی امر

# د مطالبو فهرست

**Contents** **پاڼې**

**مقدمه:** ........ 4
لیرلید (Vision): ........ 5
ماموریت (Mission): ........ 5
**(SWOT)تحلیل:** ........ 6
قوتونه (Strengths) ........ 6
ضعفونه (Weakness) ........ 6
فرصتونه (Opportunities) ........ 6
تهدیدونه (Threats) ........ 6
**د څانګی موخې او اهداف:** ........ 7
**د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د څانګی ستراتیژک اهداف او موخې ټاکل:** ........ 7
**خطرات:** ........ 7
**د چاپیریال اغیزی:** ........ 8
قوي ټکي: ........ 8
کمزوري ټکي: ........ 8
د څانګی ستراتیژیک پروګرامونه ........ 9
**حکومتولي:** ........ 9
**د رهبری پروګرامونه:** ........ 9
**د فساد پر ضد مبارزه:** ........ 9
**د عملیاتي پلان تایدول:** ........ 9
**دعمده ستراتیژیکو موخولاسته راوړلولپاره اتکل شوی پلان:** ........ 10

علمي او کاډمیک پروګرامونه:........ 11
په علمي کادر کې وړ او مسلکې استادانو ته پراختیا ورکول:........ 11
د علمي کادري غړو ظرفیت لوړول:........ 11
علمي څیرنه او پلان جوړونه:........ 11
د عوایدو راټولول:........ 12
د نصاب پراختیا:........ 12
د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول:........ 13
د برېښنايي زده کړو پروګرامونه:........ 13
معلوماتي تکنالوژی ته لاسرسی:........ 13
لوړو زده کړو ته لاسرسی:........ 14
په اسلامي چوکاټ کي و لوړو زده کړو ته د ښځینه محصلینولاسرسی:........ 14
په ټولنه کي د کمپیوټرساینس پوهنځي رول:........ 14
د معلوماتی تکنالوژی نړیوال فعالیت:........ 15
د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا:........ 16
زیربناوې:........ 16
اکشن پلان........ 17
پنځه کلن مالي پلان........ 19
پایله:........ 21

**مقدمه:**

داچي اوسنی عصر د معلوماتي ټکنالوجۍ دی او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ په مټ ټوله نړۍ په یوه کوچني کلي بدله شویده، همدارنګه معلوماتی تکنالوژی دتاریخ په اوږدوکی بیلا بیل پړاوونه تیر کړي دي چی په اوسنی معاصر وختونو کې معلوماتي ټکنالوجۍ ته ډیر لوړ ارزښت ورکول کیږي چی د وخت د غوښتنی سره سم عامه خدماتو عرضه او ورځنی چاري برښنائي کول او اتومات کول یوه اړینه دنده ده. معلوماتي ټکنالوجي دبروکراسی مخنیوی کوي او چاري چټکي کوي.

معلوماتی تکنالوژی نن ورځ داجرایی بنې څخه پرته دیوعلم په توګه هم مطرح دی. د معلوماتي ټکنالوجۍ پر مټ علمی څیړني اواکاډمیکي هڅي چټکي شویدي او په اړونده چارو کې ډیر مؤثریت او سهولت رامینځ ته شویدی، ادارات دنوي مدیریت د طرز په مرسته له پخواني زاړه شکل څخه را ایستلي اودیوه علمی مدیریت بنه یی ورکړي ده.

د معلوماتی تکنالوژی څانګی لخوا روزل شویو دعامه سکتور کارکوونکواومدیرانوته اړتیاده. دغه اړتیا د پوهنتون اوعلمی مرکزله خوابشپړیدای شي. له همدی امله نن ورځ معلوماتی تکنالوژی د اکاډمیک دسپلین په توګه مطرح دی.

دهغی دمؤثریت درجه په اداري اجرأتوکې دسنجش معیارونه شتون لري. په دغه ټوله پروسه کی ګڼ شمیرپوهانواوڅیړونکو هلی- ځلی کړي اودنن ورځي پرمختللی اوعلمی تحقیقات یی دبشپړوالي لوړومدارجو ته رسولي دي. دولتونه غواړي چی د استحکام، اغیزمنتوب، اصولی والي اومسلکی توب په خاطردمعلوماتی تکنالوژی علمی اړخ پیاوړی کړي، نوځکه دهمدي موخي لپاره دڅیړنومراکز اوپه پوهنتونوکې اکاډمیک واحدونه تشکیل شوي دي. دادی په افغانستان کې هم په ډیرو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې د معلوماتی تکنالوژی څانګی تاسیس شوي دي، چی باید مسلکی متخصص کادرونه وروزي.

نن ورځ ملی دولتونه داتباعودغوښتنو او د هغوی د رضایت دحاصلولو مسؤلیت لري. دعامه ملکی خدماتوبهبود د نن ورځي بشري ستره تقاضا ده. علمی څیړنوښودلي چی ددولت کارکوونکي هغه وخت په خپلوچاروکی بریالي اوګړندي دي چی په علمی توګه دعلمي اداري پرمخ بیولو لپاره مجهز وي. اوس مهال دزاړه او اوپخوانی اداري سیستم ځای نوی او پرمختللي سیستم چي د معلوماتي ټکنالوجۍ پرمټ ولاړ کمپیوټري سیستمونه دي، هغوی نیولی دی، په همدی خاطردولتونو دمدبرو، آبرومندو، دلوړپرستیژ لرونکو اودغوره مثمریت لرو نکوسراسري پیاوړومؤسسوپه توګه تبارزمونډلی دی، چی اتباع یی نه یوائي ورڅخه رضایت لري، بلکی دیوه سازماندهی شوي ارګانیزم په توګه متحده ټولنه جوړوي. دهمدی اهمیت له مخی دمسلکی متحصصینودروزنی لپاره دمعلوماتی تکنالوژی دڅانګیوایجادول احساس اودادی دغه څانګی تاسیس شول.

دا چي دا څانګی ده دی بنسټ یوه فعاله او پر معیارونو برابره ده او تر دی مهاله پوری یی ټولني ته د خدمت په موخه دوه دوري فارغان وړاندي کړیدي، او همدارنګه له نیکه مرغه معلوماتی تکنالوجی په رسمي بڼه په ۱۳۹۳ هـ ل کال کی منظور سوی دی ، د یادولو وړ ده چي په کال ۱۳۹۵ کې په رسمي بڼه د بهاری کانکور آزمویني څخه وروسته د معلوماتی تکنالوجی په ډیپارتمنت تدریسی چاری پیل او په کال ۱۳۹۸ کې لومړي دوره مو ټولني ته ځوان علمي کدرونه وړاندي کړي.

یاد څانګی له کیفي پلوه مشبوع ده خو له کمي پلوه نورو علمي کادرونو ته هم اړتیا لري، د یادولو وړ ده چي اوس مهال په دغه څانګی په تعداد (۱۱) تنه استادان شتون لري، عملاً تنظیم شوی درسی نصاب لري، دفتری لوازم، فرینچر، د دفتر ددوسیو سیستم، لرلید ماموریت یی چمتو شوی دی، استادان د څانګی او پوهنتون په مهمو کمیټو کې غړیتوب لري .

د څانګی د ځوانو علمی کادر غړو او اداری پرسونل هلي ځلي په نه ستومانه کیدونکي توګه رواني دي او چاري یي لا زیاتي سمبالیږي. ددي مقصد لپاره د یوی ستراتیژیک پلان یا برنامی موجودیت ته اړتیا ده، څرنګه چي ستراتیژي باید د

پوهنتون، د څانګی سطحه جوړه شي او هره پوهنځی باید یو ځانګری پلان ولري خو د ځان آرزوني کمیټي د تأکید او توصيي په اړه په همدی منظور دڅانګی علمی شورا مناسب وبلل چی یوه ستراتیژیک پلان د لارښود سند په توګه تدوین او وروسته د هغي مطابق اجراات پرمخ یوړل شي.

**لیرلید (Vision):**

د افغانستان په کچه په علمي ډګر کي د کمپیوټري شبکي یا نیټورک او معلوماتي ټکنالوژي په برخه کي یوه غښتلي اکاډمیکه اداره رامنځ ته کول.

**ماموریت (Mission):**

په ملي او نړیواله کچه د معلوماتي تکنالوژي د پیژندني د اړتیاوو پر بنسټ د سپیڅلي ښووني زده کړي او څیړني وړاندی کول.

## ارزښتونه(Values):

1) سالم او مؤثر مدیریت.
2) د څانګی په ټولو چارو کی شفافیت او د هر ډول فساد مخنیوی.
3) د څانګی پرمختګونه او نوښتونه.
4) د ټولو اسلامي او بشري ارزښتونو درناوی.
5) د هر ډول تبعیض، تعصب اوکرکي مخنیوی.
6) لوړ کیفیت.

## تحليل: (SWOT)

نو د دي لپاره چي معلوماتی تکنالوژی د پورته ذکر شویو ټکو په اړه پوره معلومات له ځانه سره ولري، لازمه ده، چي د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل معنوي او فزيکي انځور خپلي مخي ته وړاندی کړی خپلي ټولي مادي او معنوي زيرمي په هر اړخيزه توګه و ارزوي چي تر څو په نتيجه کي د راتلونکو پرمختګونو او موخو ته د رسيدو بشپړ پلان ولري.

دا چي ستراتيژيک پلانونه د علمي پروګرامونو ستراتيژکی موخي ټاکي او همدغو موخو ته د رسيدو لپاره مسير او اړوند لازمي کړني په نښه کوي. موخي ته رسيدل تر هغي شوني ندي چي ترڅو علمي پروګرامونه خپله پياوړتيا، کمزورتيا، فرصتونو او تهديدونو څخه خبر او پر لاملونو يي غور ونکړي.

**<u>نوبنأ د معلوماتی تکنالوژی يادي موخي د لاسته راوړلو لپاره د (SWOT) لاندينی تحليل ترسره کوی:</u>**

| قوتونه (Strengths) | ضعفونه (Weakness) |
|---|---|
| ۱: ښه رهبری.<br>۲: په ځانګی کی د ماستر اودوکتور په کچه د استادانو شتون.<br>۳: د درسی موادو نوی کول.<br>۳: د باتجربه استادانو شتون.<br>۴: د صحی کارمندانو شتون.<br>۵: د استادانو او اداری تر مینځ ښه همږغی .<br>۶: مجهز درسی صنفونه.<br>۷: پراخه کاری صاحه. | ۱: د مسلکی استادانو نشتون.<br>۲: د انټرنیټ نشتون.<br>۳: د ماستر استادانو نشتون.<br>۴: د امکاناتو نشتون.<br>۵: د عملی کار د الو نشتون.<br>۶: د استادانو د ظرفيت لوړونی نشتوالی .<br>۷ : محصلينو ته د علمی سفرونو نه چمتو کول.<br>۸: د عملی کار نشتوالی.<br>۹:د مجهز کمپيتر ليب نشتون.<br>۱۰:د نوی درسی موادو نشتون. |
| **فرصتونه (Opportunities)** | **تهديدونه (Threats)** |
| ۱: د نوی نسل روزل.<br>۲: معياری درسی صنفونه.<br>۳: با تجربه استادانو شتون خو لږ.<br>۴:پراخه کاری ساحه.<br>۵: معلوماتی تکنالوژی ته وده.<br>۶: د محصلينو ليوالتيا. | ۱: د خلګو کمزوري اقتصادی وضعيت.<br>۲: دلوړ رتبه استادانو نشتوالي<br>۳: د عملی کار د الو نشتوالی.<br>۴: نا امنيتی .<br>۵: د انټرنیټ نشتون.<br>۶:د مسلکی استادانو نشتون.<br>۷:د مجهز کمپيوتر ليب نشتون.<br>۸:پر محصلينو تينګار نه کول. |

## د څانګی موخې او اهداف:

د معلوماتی تکنالوژی څانګی ستراتېژیک پلان جوړوني څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو ته د پای ته د رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. څانګی د ټاکلو ارزښتونو، لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. دمعلوماتی تکنالوژی څانګی پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې اهداف تعقیبوي:

1) د وخت او اړتیاووله غوښتنو سره سم په بېلابېلو برخو کې د مسلکي اشخاصو روزل .
2) د علمي او څېړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر علمي پروګرام رامنځته کول.
3) د لوړو زده کړو له لارې د قانون حاکمیت، عدالت تامین، اقتصادي ودې او امنیت تامینولو ته زمینه برابرول.
4) د څېړنو پر مټ د ټولني ستونزو پېژندل او ورته مناسبې حل لپاره پیدا کول .
5) د لوړو زده کړو وزارت، ولایت، پراختیایي ښکېلو خواوو او نورو تمویلوونکو ادارو او اشخاصو په وړاندې د دڅانګی څخه اغېزمنه استازولي او له دوی سره د ښو اړیکو ټینګول.
6) د لوړو زده کړو په برخه کې د روڼ او شفاف بهیر رامنځته کول .
7) د بېلابېلو علمي او تخصصي پروګرامونو د پلي کېدو لپاره دمعیاري تخنیکی او مسلکی جوړښتونه ،مادي او کاري وسایلو برابرول
8) د لوړو زده کړو په برخه کې غوره خدمتونو وړاندې کولو په پار هر اړخیز امکانات ترلاسه کول

## د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د څانګی ستراتیژک اهداف او موخې ټاکل:

د معلوماتی تکنالوژی څانګی ستراتېژیک پلان جوړوني څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی چې په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي.
څانګی د ټاکلي ماموریت او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. بُست پوهنتون پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) په دوامداره توګه د وخت د شرایطو او بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره معیاري زده کړې وړاندې کول
2) د علمي کادر غړیو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول
3) د ښو علمي او څېړنیزو پرمختګونو په موخه څېړنیز مرکز درلودل
4) په راتلونکو پنځه کلونو کې له ملي او بین المللي اعتبار ورکوونکو ادارو څخه اعتبار ترلاسه کول
5) په علمي او اکاډمیکو چارو کې د خپلواکی په لرلو سره د سیمې له علمي پروګرامونو سره سالمې سیالی ته چمتوالی

## خطرات:

څانګی په راتلونکو پنځو کلونو کې خپل ستراتېژیک پلان د تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي:

1) د حکومت د دستګاه له لوری خصوصی سکتورونو سره د سالمی همکاری نشتون
2) د علمی کادرونو نشتون
3) د تکنالوژی نا سم استعمال

4) د تکنالوژی سره نه بلدتیا
5) د هېواد په کچه د کاری فرصوتونو نشتون
6) د عوایدو کموالی
7) په علمی ډګر کی د ناسالم رقابتی سیستم نشتون

## د چاپیریال اغیزی:

نو که چېرې د چاپېریال مثبتي اغېزې له وړاندې وپېژندل شي، د پوهنتون په علمي او فزیکي پرمختګ کې ورڅخه مثبه ګټه پورته کېدای شي.

او که چېرې د چاپېریال منفي اړخ په پام کې ونه نیول شي،شوني ده، د بېلابېلو تهدیدونو او ګواښونو له کبله د پلان موثر تطبیق له خطر سره مخامخ کړي.

څانګه په راتلونکو پنځو کلونو کې د خپل ستراتېژیک پلان تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي

### قوي ټکي:

- ۱: ښه رهبری.
- ۲: په څانګی کی د ماستراودوکتور په کچه د استادانو شتون.
- ۳: د درسی موادو نوی کول.
- ۳: د باتجربه استادانو شتون.
- ۴: د صحی کارمندانو شتون.
- ۵: د استادانو او اداری تر مینځ ښه همږغی .
- ۶:  مجهز درسی صنفونه.

- ### کمزوري ټکي:

۱: د مسلکی  استادانو نشتون.
۲: د انټرنیټ نشتون.
۳: د ماسټر استادانو نشتون.
۴: د امکاناتو نشتون.
۵: د عملی کار د الو نشتون.
۶: د استادانو د ظرفیت لوړونی نشتوالی .

۷ : محصلینو ته د علمی سفرونو نه  چمتو کول.

۸: د عملی کار نشتوالی.

۹:د مجهز کمپیټر لیب نشتون.

۱۰:د نوی درسی موادو نشتون.

# د ځانګی ستراتیژیک پروګرامونه

## حکومتولي:

د معلوماتی تکنالوژی  ځانګی اداري جوړښت په رآس کې د ځانګی امر قرار لري. د دې تر څنګ، یاده  ځانګی  د ۱۱ تنو استادانو  لرونکې دی  چې اړونده ځانګی د  امر لخوا اداره او چارې یې په اغیزمن ډول پرمخ روانې دي. د ځانګی امر  په پام کې لري چې د لا اغیزمنتیا په پار نورې لازمې کړنې هم ترسره کړي، نو دا بهیر تل ځاري.  یاده  ځانګی د خپلو ټولو کړنو په برخه کې د لوړو زده کړو تګلاري سره سم به د هیواد د نافذه قوانین، پالیسې ، مقرري او لوایح ته ژمن او رعایتوي.

## د رهبرۍ پروګرامونه:

1) ستونزو او ګواښونو ته رسیدګي.
2) د کارشکنی، تعصب او بې عدالتۍ په وړاندې مبارزه.
3) د مراجعینو، استادانو، کارمندانو او محصلانو شکایاتو ته په وخت رسیدګي کول.
4) د اړتیاوو په نښه کول او د رفع لپاره یې کوښښونه کول.
5) په ځانګه  کی د نظم تامینول.

## د فساد پر ضد مبارزه:

دا چې فساد یوه شومه پدیده ده او د پرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي، ځانګی همیش په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول
2) دفتري چارې کمپیوټرایز کول
3) د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوي کول
4) د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولییز پوهاوي
5) د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د مقرراتو، لوایحو او قوانینو پلي او ځارنه کول
6) په ځانګی کې د فساد اړوند مواردو تشخیص او ورته حل لارې پیداکول
7) د ځانګی د ټولو ټولګیو څخه ځارنه کول

## د عملیاتي پلان تایدول:

د ستراتیژیکو هدافو د  لاسته راوړلو په مقصد د عملیاتي پلانونه او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساسی اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغیزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. په همدې اساس، ځانګی د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره علمیاتي پلانونه ترتیب او لاندې کړنې ترسره کړي:

1) د عملیاتي پلانونو د پلي کېدو او تطبیق څارنه تر سره کول
2) د عملیاتي پلانونو د تطبیق په رڼا کی د اړوندو کړنو د راپورونو ترتیب او وړاندې کول
3) د عملیاتي پلانونو د نه اجراء شویو چارو لپاره د تدابیري پلانونو ترتیبول

4) د عملیاتي پلان په جوړولو کې د ښکیلو خواوو شریکول
5) د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تایید لپاره ډاډ تر لاسه کول

**د چندر مسایل:**

د ټولنیز ژوند د ښه پرمختګ او هم د ټولنې هر اړخیزې ودې لپاره نارینه او ښځینه پرته له کوم تبعیض او امتیاز څخه په ګډه د اړوندو چارو په ترسره کولو کې فعاله ونډه اخلي. لازمه ده چې ښځې هم باید د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د ضرورت پر اساس په مسلکي کړنو کې د امکان تر بریده ونډه واخلي، څو د بشري قویې شته تشه ډکه او چارې په معیاري شکل ترسره سی ځانګی د علمي بنسټ په توګه په پلان کې لري، چې د نارینه وو تر څنګ ښځو ته هم په علمي او اکاډمیکو برخو کې ونډه ورکړي، چې پدې برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي

- په علمي او تحصیلي پروګرامونو کې د نارینه محصیلینو ترڅنګ د ښځینه محصیلینو شمېر زیاتوالي ته پوره پاملرنه
- د بشري ځواک د ګمارنې په برخه کې ښځینه کادرونه د ضرورت پر اساس ګمارل
- په اسلامي چوکاټ کې د نظري زده کړو تر څنګ ښځینه محصیلینو ته د عملي زده کړو پراختیا زمینه چمتو کول

**دعمده ستراتیژیکو موخولاسته راوړلولپاره اټکل شوی پلان:**

د ستراتیژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره پلانونو او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساس او اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغېزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. په همدې اساس دمعلوماتی تکنالوژی ځانګی د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره پلانونه ترتیب او لاندې کړنې ترسره کړي.

1. د څېړنې معیاري کول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
2. معیاری تدریسی امکانات او د تکنالوژي څخه د استفادی کولو زمینه مساعدول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
3. د ښوونیزو ورکشاپونو او ټرینینګونو دایرول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
4. دعلمي کادرونو لپاره دلوړوزده کړوزمینه برابرول: (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
5. د امکان تر حده لیسانس کدری استادانو ته دماستري پروګرامونه اماده کول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
6. د امکان تر حده ماستر کدری استادانو ته د دوکتوری پروګرامونه اماده کول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
7. نصاب د ضرورت پر اساس او د مارکیټ او بازار غوښتنو سره سم اعیارول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
8. د کتابتون معیاري کول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
9. دنویو کادری استادانو تقرر (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
10. د عوایدو راټولول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)
11. تضمین کیفیت خدمات پیاوړی کول (۱۴۰۲ -۱۴۰۶)

## علمي او کاډمیک پروګرامونه:

د علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، معلوماتی تکنالوژی ځانګه په پام کې لري چې د یو با کیفیته ، پرمختللي او معیاري ځانګی په توګه بېلابېل ساینسي، ټولنیز او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله يې په هېواد او نړۍ کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه اخستي وی . په دې لړ کې ځانګی د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

## په علمي کادر کې وړ او مسلکي استادانو ته پراختیا ورکول:

دا چې دمعلوماتی تکنالوژی ځانګی د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولني او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1) په تقرر کې وړ ماستر او دوکتور تشخیصول او لومړیتوب ورکول
2) په تقرر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول
3) د ځانګی د لوړې سويې او لايقو استادانو او غړو ساتنه او وړتیاوو څخه پوره ګټه اخستل
4) د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول
5) د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
6) د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل

## د علمي کادري غړو ظرفیت لوړول:

د اداری او علمي پروګرامونو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري قوا او کار کوونکي ګڼل کیږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي. د همدی لپاره معلوماتی تکنالوژی ځانګی د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

1) په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول
2) د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل
3) د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول
4) پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتیاوو برابرول
5) د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
6) د شته مسلکي او منلو کادرونو څخه د ځانګې، او پوهنتون په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې ګټه پورته کول
7) د ځانګی پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټرینګونو فرصتونونو برابرول
8) د ځانګی د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه

## علمي څیړنه او پلان جوړونه:

په نړیواله کچه څېړنې او د څېړنو په پار پلان جوړونه د ځانګو او علمي برنامو د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه او د ټولنې وګړي د ستونزو حل او پرمختګونو رامنځته کولو په غرض علمي څېړنې ترسره کوي. د معلوماتی تکنالوژی ځانګی په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1) د څېړنیزو کړنو او پروژو د ترسره کولو له پاره د بودیجې او امکاناتو برابرول
2) د ځانګی څیړنیزو مرکزونو له لوري د خصوصي سکتور دستونزو او اړتیاوو حل له پاره د څېړنیزو پروژو طرحه کول
3) د ځانګی په کچه د څېړنو یو موثر میکانیزم رامنځته کول
4) د څېړنې په برخه کې د علمي، اداري پرسونل او محصیلینو روزل
5) د څېړنیزو پروګرامونو ترسره کولو لپاره کار کول تر څو استادان په ملی او نړیوالو ژورنالونو کی علمی ، او څیرنیزی مقالی نشر کړی.

6) دنړیوالو پوهنتونونو سره اړیکو ټینګول او دڅېړنیزو پروګرامونو پرمخ بیولو له پاره د مرستو جلبول
7) د شته لابراتورونو تجهیز او رغونه
8) د څېړنیزو پروژو د پایلو او لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره یې شریکول

## د عوایدو راټولول:

د معلوماتی تکنالوژی ځانګی هم د خپلو چارو د ښه ترسراوي او پرمختګ لپاره کورنیو او بهرنیو مرستو ته اړتیا لري، تر څو عواید راټول او د ترلاسه کولو په موخه یې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي

1) د عوایدو راټولول د فني کسانو د تخنیکي او مسلکی هنرونو د لاسته راوړنو له ادرس او تولید څخه
2) د نشراتو لخوا د تدریسی موادو یعنی چپترانو او کتابونو د پلورولو څخه عواید راټولول
3) د ثابتو شتمنیو زیاتوالی
4) د تحصیلي خدماتو له لاري د عوایدو راټولول (تحصیلی فیس، د شمولیت فیس او د کانکور فیس)
5) د څیړنو پر مټ د عوایدو راټولول (څیړنیزي پروژې)

## د نصاب پراختیا:

دا چې د خپلو علمي پروګروامونو کریکولمونه د وخت، بازار او نورو ښکېلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کې د نصاب موضوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي. ځانګی د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلونونو او د شرکاوو غوښتنوته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1) د ځانګی په کچه د کریکولم د کمېټو پیاوړې کول.
2) له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا کول.
3) نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول.
4) له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونی تر سره کول.
5) له ټاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
6) د کریکولم کمېټې غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالیسی تهیه کول .
7) د ځانګی په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینګونو چمتو کول.
8) د کرېکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کارګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
9) د لوړو زده کړو وزارت نوي ستراتیژیک پلان یو هدف د لوړو زده کړو په برخه کې د تدریس عنعنوي میتود په (OBEد موخو په اساس زده کړې) او (SCLشاګرد محوري) بدلول دي.

## د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول:

علمي برناماو پروګرامونو د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نوموړي چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې د اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بېلابېلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي. چې په دی برخه کی معلوماتی تکنالوژی څانګې په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1) د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو علمي برنامو سره همغږې کول
2) په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول
3) د ملي او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل
4) په ملي او بین المللي کچه څانګې د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
5) د پوهنتون د ستراتېژیکو موخو د تحقق لپاره له اړوندو څانګو سره همغږي کول
10) د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او عامول
11) اداري او علمي کادرغړو او محصلانوته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول
12) په دومداره توګه د برنامو او پروګرامونو ارزونی تر سره کول.

6) د کیفیت د تضمین د لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول
7) په ټولنه کې د څانګې د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل
8) په څانګې کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول
9) د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول

## د برېښنایي زده کړو پروګرامونه:

د علمي او څېړنیزو بهیرونو د پیاوړتیا او موثریت لپاره علمي پروګرامونه خپلو اړوند ښکېلو خواوو ته د برېښنایي اسانتیاوو په چمتوکولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې علمي پروګرامونه اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې رامنځته او د عصری ټکنالوجو د استعمال او استفادی څخه مثبته ګټه پورته کړي. د یادو چارو د ښه مدیریت په موخه څانګی په راتلونکو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1) د معلوماتی تکنالوژی محصیلینو ته د برېښنایي زده کړو په هکله معالومات ورکول

2) د برېښنایي زده کړو د پروګرامونو پلې کېدا څخه بشپړه څارنه
3) د برېښنایي زده کړو کمېټې ته پراختیا ورکول
4) د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړیو ته د ورکشاپونو برابرول
5) د برېښنایي زده کړو د ښه ترسراوي لپاره د یوې ځانګړې پالیسی(کړنلارې) رامنځته کول

## معلوماتي تکنالوژی ته لاسرسی:

ټکنالوژي د معالوماتو په ترلاسه کولو، خوندیتوب ، د اړیکو په ټینګولو، ښه مدیریت او د روزنیزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده ترسره کوي، اړینه ده چې علمي پروګرامونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معالوماتي ټکنالوژۍ پر مټ پیاوړې سی.

څانګی هم د ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو په انسجام او چټکیا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) زېربېناوو ته پراختیا او وده ورکول
2) د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا
3) د اي ټي امنیتي وسایلو ته پاملرنه او پراختیا
4) د محصلین هڅول ترڅو د معلوماتی تکنالوژی څخه مثبت او په موثر ډول استفاده وکړی
5) د معلوماتی تکنالوژی په مټ داخلی او خارجی اړیکو نیولو ته زمینه برابرول

**لوړو زده کړو ته لاسرسی:**

د زده کړو کول د انسانی حقوونو یو له اساسي حقوق څخه ګڼل کېږي، د معلوماتی تکنالوژی ځانګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه د وختـه وروسته پرمخ بیایي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه ځانګه په راتلونکو کلونوکې لاندې کړنې ترسره کوي:

1) په ځانګی کې د ټولو علمي پروګرامونو څخه موثره ګټه پورته کول .
2) خپلو علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت ته پراختیا ورکول .
3) عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معالومات ورکول .
4) د وخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو رامنځته کول.

5) د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معالومات وړاندې کول .
6) له هر ډول توپیر پرته هېوادوالو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول .
7) د وخت او بازار د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرام عیارول .
8) د منظمو او پر معیار ولاړو زده کړو لپاره تل هڅه کول.

**په اسلامي چوکاټ کې و لوړو زده کړو ته د ښځینه محصلینولاسرسی:**

څرنکه چی د ژوند په ټولو چارو کی ښځې د ټولنې په بشري ځواک کې له نیمایي څخه زیاته برخه تشکیلوي او د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ کې د نارینه و تر څنګ د ژوندانه په جریان کی ښه ونډه لری، د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې هم د ښځینه وو ونډه د اسلام او شریعت د چوکاټ په نظر کی نیولو سره په پام کی نیول سوی ده .

1) ښځینه محصیلینو ته د ځانګې په علمي پروګرامونو کې په جلا توګه ګډون لپاره زمینه برابرول
2) د امکان تر حده ښځینه محصیلینو ته د لوړو زده کړو ته د تشویق په موخه د معیاري ټولګیو او ازاده تدریسی جلا فضا چمتو کول
3) د ښځینه استادانو په علمي کادر بستونوکی شاملول

## په ټولنه کې د معلوماتی تکنالوژی ځانګی رول:

معلوماتی تکنالوژی نن ورځ داجرایی بنې څخه پرته دیوعلم په توګه هم مطرح دی. د معلوماتي ټکنالوجۍ پر مټ علمی څیړني اواکاډمیکي هڅې چټکې شویدي او په اړونده چارو کې ډېر مؤثریت او سهولت رامینځ ته شویدی، ادارات دنوي مدیریت د طرز په مرسته له پخواني زاړه شکل څخه را ایستلي اودیوه علمی مدیریت بنه یی ورکړې ده.

څرنګه چی اوسني عصر د معلوماتي ټکنالوجۍ دی او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ په مټ ټوله نړۍ په یوه کوچني کلي بدله شویده، همدارنګه معلوماتی تکنالوژی دتاریخ په اوږدوکی بیلا بیل پړاوونه تیر کړي دي چی په اوسنی معاصر وختونو کي معلوماتی تکنالوژی ته ډېر لوړ ارزښت ورکول کیږي چی د وخت د غوښتنی سره سم عامه خدماتو عرضه او ورځنۍ چاري برښنائي کول او اتومات کول یوه اړینه دنده ده. معلوماتي ټکنالوجي دبروکراسی مخنیوی کوي او چاري چټکي کوي.

د معلوماتی تکنالوژی  څانګی لخوا روزل شوي دعامه سکتور کارکوونکواومدیرانوته اړتیاده. دغه اړتیا د پوهنتون اوعلمی مرکزله خوابشپړیدای شي. له همدی امله نن ورځ معلوماتی تکنالوژی  د اکاډمیک  دسپلین په توګه مطرح دی.

دهغی دمؤثریت درجه په اداري اجرأتوکي دسنجش معیارونه شتون لري. په دغه ټوله پروسه کی ګڼ شمیرپوهانواوڅیړونکو هلی- ځلی  کړي اودنن ورځي پرمختللی اوعلمی تحقیقات یی دبشپړوالي لوړومدارجو ته رسولي دي.  دولتونه غواړي چی  د استحکام، اغیزمنتوب، اصولی والي اومسلکی توب په خاطردمعلوماتی تکنالوژی  علمی اړخ پیاوړی کړي، نوځکه دهمدي موخي لپاره دڅیړنومراکز اوپه پوهنتونوکي اکاډمیک واحدونه تشکیل شوي دي. دادی په افغانستان کي هم په ډیرو دولتي او خصوصي پوهنتونو کي د معلوماتی تکنالوژی   څانګی تاسیس شوي دي،  چی باید مسلکی متخصص کادرونه وروزي او ده دی څانګی موثریت او رول د تکنالوژي زیات او استفاده کوونګی یی ډیر سی.

## د معلوماتی تکنالوژی  نړیوال فعالیت:

نن ورځ په نړیواله سحطه د دولتونو د  داتباعودغوښتنو او د هغوی د رضایت دحاصلولو مسؤلیت لري. دعامه ملکی خدماتو او نړیوالو رابطو د بهبود د نن ورځي بشري ستره تقاضا ده. علمی څیړنوښودلي چی ددولت کارکوونکي هغه وخت په خپلوچاروکی بریالي اوګړندي دي چی په علمی توګه دعلمي اداري پرمخ بیولو لپاره مجهز وي. اوس مهال دزاړه او اوپخوانی اداري سیستم ځای نوی او پرمختللي سیستم چي د معلوماتي ټکنالوجی پرمټ ولاړ کمپیوټري سیستمونه دي، هغوی نیولی دی، په همدی خاطردولتونو  دمدبرو، آبرومندو،  دلوړپرستیژ لرونکو اودغوره مثمریت لرو نکوسراسري پیاوړومؤسسوپه توګه تبارزموندلی دی، چی اتباع یی نه یواځي ورڅخه رضایت لري، بلکی دیوه سازماندهی شوي ارګانیزم په توګه متحده ټولنه جوړوي. دهمدی اهمیت له مخی دمسلکی متخصصینودروزنی لپاره دمعلوماتی تکنالوژی دڅانګی رول ډیر زیات مهم ګڼل کیږی چی په اوسني زمان کی په زیاته ګچه یی ډیر استعمال کوونکی پیداکړی دی چی استعمال یی ډیر دی.

## د کرېډت سیستم پیاوړتیا او پلی کول:

د نن سبا د نړۍ زیات شمیر څانګی د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ بیايي او له دې لارې د محصیلینو د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چې له یوې خوا محصلین وکولای سی له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. څانګی د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري:

1) د کرېډیټ سیستم په ښه بڼه د پلي کېدو په هکله تدریسي او اجرایوي مدیرانو ته پوهاوی ورکول .
2) د پایلو پر بنسټ د زده کړو په نتیجه کې د کرېډیټ لایحې موخې ترلاسه کول .
3) د محصل محوری د زده کړو رواجول.
4) د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړي کول .
5) د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه پېلول.
6) د کریډیټ سیستم د موثریت په اړه محصیلینو ته معالومات ورکول .
7) په ټولوڅانګو کې د کرېډیټ سیستم عملي کېدو څارل.
8) د ټرانسکریپټونو د ترتیب په برخه کې د نمرو درجه بندي د فیصدۍ تر څنګ د GPA په سیستم برابرول.

**د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا:**

ټول علمی بنسټونه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي او همیش غواړی چې ځانگی د هېواد او په نړیواله کچه د محصیلینو توجه او رضایت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره ځانگه غواړي چې له یو پلوه په علمي ټولنې کې خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدې لارې مالي او مادي امکانات پراخه کړي. ځانکه د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) د وېبسایټ له لارې محصلینو ته پوره معالومات په واک کې ورکول
2) د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني سهولتونو پراختیا ورکول
3) په ځانگې کې د اړوندو لابراتوارونو کیفیت او خدماتو ته پراختیا ورکول
4) محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترځنگ، د لازمو مهارتونو چمتووالی
5) محصیلینو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول
6) د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی
7) د علمي او عملي زده کړو په برخه کې محصلینو لپاره اړوندو سکتورونو سره د تواميتونو رامنځته کول
8) محصلینو ته د عملي پیاوړتیا په موخه د بېلابېلو تمثیلي پروگرامونو او سمینارونو چمتو کول
9) په نړیوالو علمي سیالیو کې محصیلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول
10) محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول

**زیربناوې:**

ټول علمي ځانگې تل هڅه کوي چې د علمي او اکاډمیکو پرمختګونوترلاسه کولو په موخه مادي امکانات او د اړتیا وړ پراخه زیربناوې او تاسیسات ولري.

همدارنگه اړینه بریښي چې د راتلونکي لپاره بنسټیزې او زیربېنایي پروژې پلي کړي چې په پراخه کچه د لوړو زده کړو بېلابېو پروگرامونو د تطبیق وړتیا ولري. ځانگې د زېربناوو د پراختیا په موخه د پلان له مخې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې چارې ترسره کوي:

1) د کنفرانس او جلسو لپاره جلا ځانگړی ځای اماده کول
2) د ځانگی د تخنیکی برخو لپاره جلا ساحه مشخص کول
3) د ځانگی لپاره په موجوده ودانی کی جلا صنفونه او ساحه ځانگړی کول.
4) د بیلابیلو ځانگو پوری مربوط بیل بیل مجهز کمپیوټر لیبونه، دهاردویرمجهزلابراتوار جوړول
5) د ځانگی د زیربناوو ساتنه او څارنه

# اکشن پلان

| شماره | فعالیت | موخه | مسؤل | د اجرا ځای | سرچینې | د کار د اجرا وخت | | | | | | | | | | | | ټول وخت | د کار شروع | د کار ختم | اغېزې | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | وری | غویی | غبرګولی | چنګاښ | زمری | وږی | تله | لړم | لیندۍ | مرغومی | سلواغه | کب | | | | اغېزې | کتنې |
| ۱ | د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه | د محصلانو د ښې روزني په موخه د تحصیلي نصاب ټول مواد وخت په وخت کتل، نوي کول او تر محصلانو رسول. | د څانګې امریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | د هر سمستر پیل او پای | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۲ | د علمي څېړنو پراخول | د ټولني د شته ستونزو د حواري اوهم د څانګې د اکاډمیک فعالیت د تر سره کولو په موخه وخت په وخت د علمي څېړنو تر سره کول. | د څانګې امریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | د کاله ۳ څېړنې | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۳ | د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړي کول او اکډمیک اعتبار اخیستل | د نړیوال اعتبار اخیستلو په موخه د ټولو کړنو او فعالیتونو پروخت او منظمه توګه تر سره کول او د اعتباردهي د هر پړاو په منظمه توګه تی کول. | د څانګې امریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | هر وخت | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۴ | د ظرفیتونو لوړول | په معلوماتی تکنالوژی څانګې کي د ماستر او دوکتور استادانو زیاتوالی | د څانګې امریت | معلوماتی تکنالوژی | مالي ملاتړ | | | | | | | | | | | | | د اړتیا مطابق | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | د کړنو پروخت تر سره کیدنه | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | د استادانو د ماسټری د پرو ګرام پلي کول | د استادانو د ظرفیت لوړوني او د با تجربه او مسلکي کادرونو د درلودلو لپاره. | | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | هر وخت | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۶ | د مسلکي دایمي استادانو مقررول او کادري سیستم فعالول | د استادانو د اعتبار او د هغوي د ظرفیت لوړوني لپاره تر څو په همیشني ډول ماستر او دوکتور مسلکي کادرونه د محصلانو د روزني لپاره موجود وي. | د ځانګی امریت/علمي معاونیت/ د استادانو چارو آمریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | د اړتیا په وخت کې | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۷ | د عوایدو را ټولول | د خپل تصیلي بنسټ د بقا او علمي او کادري غړو د ساتني لپاره د تحصیلي او څېړنیزو خدماتو له لاري د عوایدو را ټولول. | د ځانګی امریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | هر وخت | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۸ | د تکنالوژی څخه استفاده | د وخت او زمان د غوښتني مطابق په تدریس کي او هم د اداري چارو د پر مخ بیولو لپاره او هم په انلاین ډول د تدریس وراندي کول. | د ځانګی امریت / د برېښنايي زده کړو کمېټه | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | هر وخت | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۹ | کتابتو ن معیاری کیدنه | د ځانګی د ضرورت او د اړتیا مطابق د برېښنایی او فزیکی کتابونه امادہ کولو | د ځانګی امریت / د برېښنايي زده کړو کمېټه/ کتابتون | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | هر وخت | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |
| ۱۰ | د معیاری تدریسی امکانات | معیاری تدریسی امکانات لکه لابراتوارونه، فزیکی او برېښنایی کتابتون شتون | د ځانګی امریت | معلوماتی تکنالوژی | | | | | | | | | | | | | | | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۶ | | |

# پنځه کلن مالي پلان

| شماره | فعالیتونه | | کلونه 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | پنځه کلن عمومي مصارفات | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتی تکنالوژی دیپارتمنت پنځه کلن مالي پلان د ۱۴۰۱_ ۱۴۰۵ پوري** | | | | | | | | | |
| 1 | د کارمندانو معاشات | | 375,000 | 375,000 | 375,000 | 375,000 | 375,000 | **1,875,000** | |
| 2 | د قرادادي استادانو حق الزحمه | | 664,800 | 672,000 | 715,200 | 765,600 | 765,600 | **3,583,200** | |
| 3 | قرطاسیه | | 9,390 | 9,390 | 9,390 | 9,390 | 9,390 | **46,950** | |
| 4 | دایمي کارمندانو د غذا مصارفات | | 6,000 | 6,000 | 6,000 | 6,000 | 6,000 | **30,000** | |
| 5 | د استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالي | | 6,000 | 6,000 | 7,000 | 7,000 | 7,500 | **33,500** | |
| 6 | د علمی خیړنو پراخوالي | | 15,000 | 15,000 | 20,000 | 22,500 | 20,000 | **92,500** | |
| 7 | د تکنالوژي څخه استفاده | | 3,500 | 3,500 | 4,000 | 4,000 | 4,000 | **19,000** | |
| 8 | د داخلي او نړي د پرمختللي پوهنتونو سره اړیکي | سمینارونه | 3,000 | 3,000 | 3,500 | 3,500 | 3,500 | **32,750** | |
| | | ورکشافونه | 3,000 | 3,250 | 3,250 | 3,250 | 3,500 | | |
| 9 | په ځانګه کي عملي کارونو او د ځانګی کتابتون ته پراختیا | عملي کارونو ته پراختیا ورکول | 2,500 | 2,500 | 3,000 | 3,250 | 3,500 | **46,500** | |
| | | په ځانګه کي معیاري کمپیوټر لیپ جوړول | 6,000 | 6,250 | 6,000 | 6,000 | 7,500 | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | **40000** | 10,000 | 10,000 | | | | تحصلي نصاب اصلاح او ارزونه | 10 |
| | **200000** | 25,000 | 25,000 | 20,000 | 0 | 30,000 | د مسلکی دایمي استادانو مقررول او کادري سیستم فعالول | 11 |
| افغانی | **5,999,400** | **د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتی تکنالوژی دیپارټمنت د مصارفاتو پینځه کلنه عمومي مجموعه: ۱۴۰۱ _ ۱۴۰۵** | | | | | | |

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتی تکنالوژی دیپارټمنت د عوایدو برخه ۱۴۰۱ _ ۱۴۰۵**

| کتنی | پینځه کلن عواید | کلونه 1405 | 1404 | 1403 | 1402 | 1401 | | فعالیتونه | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | **9,715,000** | 1,428,000 | 1,225,000 | 954,000 | 769,000 | 948,000 | بهاری سمستر | د محصلینو فیس | 1 |
| | | 1,274,000 | 1,071,000 | 791,000 | 562,000 | 693,000 | خزاني سمستر | | |
| | **146,000** | 37,000 | 34,000 | 32,000 | 24,000 | 19,000 | بهاری سمستر | د محصلینو داخلی فیس | 2 |
| | | | | | | | خزاني سمستر | | |
| | **3,054,810** | 875,490 | 817,080 | 592,845 | 410,850 | 358,545 | | د نشراتو کتابونو/چپټرونو عواید | 3 |
| افغاني | **12,915,810** | **د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتی تکنالوژی دیپارټمنت پنځه کلن عمومي عواید ۱۴۰۱ – ۱۴۰۵** | | | | | | | |

**پورته دمعلوماتی تکنالوژی ځانګی پنځه کلن مالی پلان د ډیپارټمنت دمجلس په ( ) غونډه او ( ) تاریخ تاید سو .**

---

**پورته دمعلوماتی تکنالوژی ځانګی پنځه کلن مالی پلان د ډیپارټمنت دعلمی شورا په ( ) غونډه او ( ) تاریخ تاید سو .**

**پایله:**

د ځانګی دا تکمیل او ترتیب سوی ستراتیژیک پلان چې د ( ۱۴۰۲ – ۱۴۰۶ ) کال لپاره چمتو شوی دی، دمعلوماتی تکنالوژی ځانګه هڅه کوي چې په کې پر ځای شوی مواد په خپله ټاکلي نېټه عملي کړي.
ځانګی به کوښښ وکړي چې د پوهنتون، د موجوده ستراتیژیک پلان ته په کتولو سره سم د پوهنځي اړوند د فزیکي رغوني او معنوي پیاوړتیا لپاره امکانات چمتو کړي.
د اړوند فعالیتونو تر سره کول د ځانګی د مسلکی استادانو کوښښونه ځانګی ته د خوښی زېری او هیله بخښوونکي دي.
تر څو معلوماتی تکنالوژی ځانګه د هیواد ، سیمی او منطقي په سطحه مطرح او پر معیار ولاړه وی
او د هیواد زوریدلی ولس هیلی او غوښتنی چې د تکنالوژی د موثر استعمال او مروج کولو په برخه کی لری په پوره صداقت او ربښتنولی سره چمتو، اماده او د وطن د علم پروره بچانو دا علمی تنده خړوبه کړی.

د معلوماتی تکنالوی امر: نوم ..................................................... لاسلیک ......................

د ځانګی د ستراتیژیک پلان د کمیټی له لوري د تائیدی نیټه او پروتوکول / / ( )

پروتو کول ګی تائید او تصویب سو

د پوهنځی د علمي شورا له لوري د تائیدی نیټه او پروتوکول / / ( )

پروتو کول ګی تائید او تصویب سو